# د افغانستان د ديني ازادۍ راپور - ۲۰۱۶ کال

**لنډيز:**

اساسي قانون اسلام د افغانستان رسمي دين بللی، خو د نورو دينونو پلويانو ته يې هم پوره اجازه ورکړې چې خپل ديني باورنه د قانون په چوکاټ کې ولمانځي؛ د حنفي مذهب له مخې له اسلام څخه بل دين ته اوښتونکي ته د وژل کېدو، بندي کېدو او يا د هغوی د ځمکو د ضبط کېدو سزا ټاکل شوې، «په هغه صورت کې چې په اساسي قانون کې د قضيې د اثبات لپاره هيڅ ماده نه‌وي،» اساسي قانون هم د هغه د پلي کولو امر ورکړی دی؛ د سترې محکمې د راپوروونو له مخې، که بدل شوی دين له اسلام څخه جلا او يا مقدساتو ته سپکاوی وي، بيا هم د حنفي مذهب فقهي له مخې ګناه ګڼل کېږي. قانون موږ ته د داسې عملونو اجازه نه‌راکوي چې د اسلام خلاف او يا کوم بل دين ته په کې سپکاوی شوی وي. هغوی چې کومې مذهبي ډلې ته يې په فزيکي او يا غږيز ډول سپکاوی کړی وي، تر دريو مياشتو ډېر بند محکومېږي. په تېرو دوو کلونو کې د ارتداد هيڅ قضيه هم نه‌ده ليدل شوې، خو ځينې چې په واحد ډول له اسلام څخه بل دين ته اوښتي، هغوی تر قانوني سزا لاندې راغلي؛ تر څنګ يې د کورنۍ او ټولنې له لوري تر نيوکو لاندې راغلي او غچ يې اخيستل شوی. د هندو او سيک ټولنې غړي وايي، کله چې د دوی په منځ کې کومه قضيه او يا پېښه رامنځته کېږي، دوی وايي تر دې چې دا قضيې محکمو ته وړاندې کړو، دې ته ترجيح ورکوو چې د قومي شوراګانو له لارې يې حل کړو. د مذهبي ليږه‌کيو مشران وايي: محکمې غير مسلمانو ته نسبت مسلمانو ته کم حقوق ورکوي، د سيکانو او هندو مذهبي ډلو يوه کوچنۍ شمېره د دولت په چوکاټ کې خدمت کوي. شيعه مذهبه، که څه هم په دولت کې په لوړو پوستونو کې کار کوي، خو بيا هم ګيله‌من دي چې په دولت کې د دوی شمېره لږه ده او د دوی پوره حق نه‌دی ورکړل شوی، دوی دولت په‌دې ګرموي چې د شيعه مذهبو په سيمه کې امنيت ته چندان پام نه‌کوي.

طالبان او په خراسان ولايت کې اسلامي ډله چې ځان د داعش اړوند بولي او د متحده اياالاتو له لوري هم د وېره‌اچونکو سازمانونو له ډلې څخه شمېرل شوې، له‌دې امله ليږه‌کۍ مذهبۍ ټولنې زوروي او وژني چې مذهبي عقيدې يې له دوی سره توبير لري او يا له دې امله چې دوی له دولت سره اړيکې ساتي. داعش ډلې په شيعه مذهبه د بريدونو مسووليتونه هم په غاړه اخيستي چې له امله يې په سلګونو تنه وژل شوي. په جولای مياشت کې يوې بمي چاودنې د شيعه مذهبو يوه ډله چې ډېری يې هزاره ټبر څخه وو، د لاريون پر مهال په نښه کړل، د دې بريد په پايله کې ۹۷ تنه ووژل شول او تر ۲۶۰ تنه ډېر په کې ټپيان شول. په اکتوبر مياشت کې وسله‌وال کسان د کارته سخي جومات ته ننوتل او هغه کسان چې د عاشورا ورځ يې لمانځله په نښه کړل، په پېښه کې ۱۷ تنه عبادت‌کوونکي ووژل شول او ۵۸ تنه نور يې ټپيان کړل، په‌دې ډله کې کوچنيان او مېرمنې هم شاملې وې. داعش ډلې د دواړو بريدونو مسووليت په غاړه واخيستی. طالبانو د څو تنو شيعه مذهبه هزاره‌ګانو د برمته کولو مسوولين وو، چا چې په‌دې ډول هڅه کوله، تر څو هغه روحانيون چې د طالبانو خلاف پيغامونه يې خپرول، په مرګ وګواښي.

دوی ملایان هم وګوابنل چې د امنیتي ځواکونو د جنازې لمنځونه ادا نه کړي؛ طالبانو تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې د خپلو اخیستنو او تفسیر لهمخې چې دوی له اسلامي قانون څخه کوی، خلک مجازات کړي.

سیکان، هندوان، عیسویان او نورې مذهبي ډلې وایي چې دوی وخت په وخت له تاوتریخوالي او زورونو سره مخ شوي دي. هندوانو او سیکانو که څه هم خپل مذهبي مراسم  په ازادانه ډول تر سره کول، خو دوی ته بیا هم ویل شوي وو چې دوی د دې هېواد اوسېدونکي نه دي. عیسویان بیا وایي چې د ټولنې له تاوتریخوالي ډکو خبرو څخه د لېرېوالي او دا چې دوی نوي دي، دوی په پټه مذهبي مراسم تر سره کوي، تر څو د ټولنې له ازارولو څخه ځان وژغوري. د نورو مذهبي ډلو مېرمنې بیا وایي چې دوی د مسلمانانو مذهبي مشرانو له لوري د هغوی د ځانګړو جامو اغوستلو او سینګار له امله له ستونزو سره مخ شوې دي. په پایله کې، دوی وایي، نږدې ټولې مېرمنې یو ډول مخ پوښلې جامې اغوندي. د لیرهکیو مذهبي ډلو مشران وایي، د هندو او سیک مخ پر ځوړ مذهبي ډلو لپاره څو عبادتځایونه پاتې دي، هغوی د تعصبي چلندونو او دا چې کاري فرصتونه ورته نه وو، کډه کولو ته مجبور شوي دي.

هندوان او سیکان د دوی هغو سیمو ته چېرې چې دوی خپل مړي سوځوي، د خلکو له خوا مداخلو په اړه وایي، هغوی چې د دوی د مړو د سوځولو سیمو ته نږدې پراته دي، د هغې پېښې په ګډون چې نامعلومه خلکو د دوی د مړو د سوځولو ځای ته ډبرې ور غورځولې وې، شکایت کوي؛ څارونکي وایي؛ د ډېرهکیو سونیانو له لوري، د لیرهکیو شیعهګانو پر وړاندې تبعیض مخ پر کمیدو روان دی، که څه هم په ځینو سیمو کې د دوی تر منځ د تبعیضي چلندونو راپورونه شته دي.

د امریکا د سفارت کارکوونکو د دولت له لوړپوړو چارواکو سره وکتل، تر څو له هغوی سره پهدې اړه چې د خلکو په منځ کې مذهبي زغم لوړ کړي، د مذهبي لیرهکیو په اړه ورسره خبرې وکړي او له تاوتریخجن افراطیت سره د مبارزې په برخه کې د دولت وړتیاوې لوړې کړي. سفارت له مذهبي مشرانو، عالمانو او غیر دولتي موسسو سره کتنو ته ادامه ورکړه، ترڅو له هغوی سره خلکو ته مذهبي پراختیاوو په اړه خبرې کولو وړتیاوې ور وبښیي، تر څو مذهبي زغمتیا لا لوړه کړي.

د سفارت باندینو اړیکو پروګرامونو مذهبي بحثونه په لاره واچول او دولتي سرچینو سره په مرسته یې د تاوتریخجن افراطیت سرچینو معلوموللو هڅې وکړې.

**لومړی برخه: مذهبي سرشمېرنې**

د متحده ایالاتو حکومت په تخمیني ډول د افغانستان نفوس۳۳,۳ میلیونه تنه ښودلی (د ۲۰۱۶ کال جولای میاشت، تخمیني سرشمېرنه)؛ داسې هیڅ کره شمېرې نشته چې د شعیه او سني مذهبونو کره سلنه وښیي؛ د دولت مرکزي احصاییې اداره هم پهدې اړه هیڅ ډول معلومات او شمېرې نهلري. د شعیه مذهب مشران وایي چې د هېواد په ټول نفوس کې د دوی سلنه له ۲۰ – ۲۵ سلنه ده، پهداسې حال کې چې سني مذهب مشران بیا د شعیه مذهب شمېرې ۱۰ سلنه ښیي.

شعیه مذهب کې اسماعلیه او د هزارهګانو ډېره برخه راځي؛ نور مذهبي ګروپونه، په تېره هندو، سیکان، بهایان او عیسویان ۰,۳ سلنه نفوس تشکیلوي. د هندوانو او سیکانو شمېره د کډوالۍ له امله را ټیټه شوې ده. د سیکانو او هندوانو مشران وايي چې د دوی نږدې ۱۸۰ کورنۍ شته دي چې ټولټال ۹۰۰ تنه په کې ژوند کوي، کوم چې له ۲۰۱۵ کاله را په‌دې خوا له ۳۴۳ کورنیو او ۲۰۰۰ تنو څخه راټیټ شوی دی. د بهایي او عیسویانو کورنیو کره شمېرې نه‌دي معلومې. د دې مذهبونو تر څنګ د نورو مذهبونو، لکه یهود هم ډېره ټیټه شمېره شتون لري.

هزارهګان په مرکزي او غربي ولایتونو کې ژوند کوي، اسماعلیان په کابل، مرکزي او شمالي ولایتونو کې ژوند کوي. د بهايي مذهب پلویان په کابل او یوه کوچنۍ شمېره یې په کندهار کې ژوند کوي.

## دویمه برخه: مذهبي ازادۍ په برخه کې د دولت ځای

### قانوني چوکاټ

اساسي قانون اسلام د افغانستان رسمي دین ښودلی، وايي هیڅ قانون او مقررات د اسلام مبارک دین پر وړاندې نه‌شي درېدلای. همدا رنګه وايي د اساسي قانون په مقرراتو کې بدلون د اسلام مبارک دین اصولو په نظر کې نیولو سره سمونونه راوستلای شي. د اساسي قانون له مخې، د نورو دینونو پیروان کولای شي، خپل ټول دیني مراسم د قانون په چوکاټ کې، له کومه محدودیته پرته تر سره کړي.

په جنايي کوډونو کې د ارتداد لپاره هیڅ ډول تعریف نه‌دی شوی. د ارتداد په برخه کې جزا، د اوو جرمونو په ټولۍ کې راځي کوم چې د شریعت له مخې حدود تشریح شوي دي. د سنیانو د حنفي فقهي له مخې، کوم چې اساسي قانون یې هم د پلي کولو امر کوي؛ که چېرې په اساسي قانون او یا نورو قانونونو کې د جرم لپاره کومه سزا نه‌وي ټاکل شوې. د نارینه مرتدیدینو لپاره د سر پرې کول او د ښځینه مرتدیدینو لپاره د عمر بند سزا ټاکل شوې، دا سزاوې تر هغه وخته د پلي کېدو وړ دي، تر کومه چې دوی بېرته توبه نه‌وي کړې. قاضي هم شاید په دوی کوچنی جریمه کېږدي، لکه لنډه موده بند او یا هم شلاق وهل، که د هغه د ارتداد په اړه بیا هم شکونه موجود وي. د حنفي فقهي له مخې، حکومت هم شاید هغه مرتد جایدادونه ضبط کړي او یا دا کس د ځمکو له جانشیني او یا څښتنتوب څخه راوګرځوي. دا لارښوونې په هغه چا د عملي کولو وړ دي، چې سالم ذهن ولري او د بلوغیت دورې ته رسېدلی وي. ټولنیز قانون د بلوغیت دوره د اکثرو لپاره ۱۸ کلنۍ ښیي، په داسې حال کې چې د نجونو لپاره د بلوغیت دوره شپاړس کلنۍ ده چې د دوی لپاره د واده کولو موده هم همدومره ښودل شوې. اسلامي قانون دا په هغه وخت کې د عملي کولو وړ بولي چې په هغه کس کې د بلوغیت نښې راښکاره شوې وي.

له اسلام څخه نورو دینونو ته اوښتل د حنفي فقهي له مخې د ارتداد په معنی یادېږي او په محاکمو کې د اجرااتو وړ دی. که کوم څوک له اسلام څخه بل دین ته له عقیدوي اړخه واوړي، دوی ته درې ورځې وخت ورکول کېږي چې له خپله کاره لاس واخلي او توبه وباسي، خو که هغه خپلې خبرې رسماً بېرته وا نه خیستلې، نو هغوی باید د ارتداد له امله سزا ووینې. خلک دې ته هڅول تر څو له اسلام څخه واوړي

او کوم بل دین غوره کړي، د حنفي فقهي له مخې جرم بلل کېږي، دوی د حنفي فقهي له مخې باید محکمه او جزا ورته ورکړل شي.

مقدساتو ته بد او رد ویل چې په هغه کې شاید د اسلام ضد خبرې او یا لیکنې وي، دا د حنفي فقهي له مخې یو ستر جرم بلل شوی دی، باید هغوی ته چې دا کار یې کړی وي، په محاکمو کې سزا ورکړل شي. د ارتداد په څېر، کفر ویونکی هم تر دریو ورځو وخت لري، تر څو له خپلې خبرې واوړي او یا به له مرګ سره مخ شي (د حضرت محمد (ص) د احادیثو سرچینه چې د اسلامي قانون له ټولې څخه شمېرل کېږي.) پېښه باید معلومه شي، له هغوی سره خبرې کول او دې ته هڅول چې له خپلو خبرو څخه واوړي، اړین دي.

د ۲۰۰۷ کال د سترې محکمې د فتواوو او حسابونو د عمومي ریاست قانون له مخې، بهایي عقیده له اسلام څخه بالکل جلا ده او له کفري عقیدو څخه شمېرل کېږي. هر مسلمان چې بهایتوب ته ور اوړي، مرتد بلل کېږي؛ بهایي عقیدې پلویان کافران او یا بېدینه بلل شوي.

قانون د هر هغه ډول موادو تولیدول، تکثیرول، چاپول او خپرول منعه کړي دي، کوم چې د اسلامي قانون پر خلاف وي او یا نورو دینونو ته په کې سپکاوی شوی وي. له دې ور ها خوا د هر ډول خپرونو او چاپي توکو د خپراوي مخنیوی کوي چې له اسلامه ماسیوه، نورو دینونو ته په کې تبلیغات کېږي. د هر هغه ډول مضامینو او لیکنو، که په هره برخه کې وي، بندیز دی چې شاید د دولت د اخیستنو له پلوه د وګړو، په تېره د کوچنیانو او نویو ځوانانو فزیکي او روحي وضعیت، مورال او حسن نیت وګواښي. قانون د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون ته، کومه چې دولتي اداره ده، لارښوونه کوي چې داسي خپرونې ولري، چې په هېواد کې دننه د ټولو قومونو د مذهبي عقیدو ښکارندویي وکړي، قانون ملي راډیو ټلوېزیون ته دا هم وایي چې خپل پروګرامونو د اسلام په رڼا کې، خو د ملي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره جوړ کړي.

د مذهبي ډلو راجسترول او یا لایسنس ورکولو ته اړتیا نشته. خو د یوه ګروپ په ډول (چې دا ګروپ بیا دوی ته د یوې شورا او کونسل حیثیت ورکوي) او یا کومه اداره جوړول، چې رسمي پېژندګلوي ولري او د دولت د یوې تشې په توګه، د سمینارونو د کنفرانسونو تهیه کوونکي وي. په قانون کې، هر هغه څوک چې عمر یې له ۱۸ کلنۍ څخه پورته وي، کولای شي ټولنیز او یا سیاسي بنسټ او یا اداره پرانېزي، دا ډول اداره باید له داخلي قوانیو او مرکزي ادارې سره سم منشور ولري. که چېرې د مرکزې ادارې له منشور سره برابرې نه وي، کېدای شي په عدلیې وزارت (MOJ) کې د قضایي نظم له مخې له منځه یووړل شي. هغه ګروپونه چې د شوراګانو په نامه یادېږي، په مذهبي موضوعاتو کې له یوه او بل سره مرسته کوي. (NGOs) شاید له دولت او یا ټولنې سره اړیکي وساتي، دواړوه؛ ګروپونه او ادارې باید له عدلیې وزارت سره راجستر وي، د هندو او سیکانو شوراګانې باید د قبایلو او سرحدونو وزارت سره راجستر وي.

جنایي کوډونه (هغوی چې د کوم مذهب ضد عمل کوي) جریمه کوي، پهدې ضد عملونو کې شاید د کوم مذهب پیروانو ته فزیکي او یا خبري سپکاوی شامل وي. هغه مشخص شخص چې د کوم مذهب په پیروانو یې فزیکي او یا خبري برید کړی وي، باید په بند محکوم شي او بند یې باید تر دریو میاشتو کم نهوي او تر

يوه کال ډېر نه‌وي، او له ۳۰۰۰ افغانيو تر ۱۲۰۰۰ افغانيو چې (۴۴ تر ۱۷۷ ډالره سره برابر دی) نغدي جريمه شي.

جنايي کوډ هغوی په رسمي جزا محکوموي چې هڅه کوي د کوم مذهب، مذهبي مراسمو ته خنډ جوړ کړي او يا يې ودروي؛ هغوی چې د مذهبي ډلو د عبادت ځايونه چېرې چې هغوی خپل مذهبي مراسم تر سره کوي، خرابوي او يا يې له منځه وړي (هغه څه چې په جنايي کوډ کې نه‌دي په ګوته شوي) او يا هغوی چې د کوم مذهب هر ډول نښانونه او يا سمبولونه له منځه وړي، منځنۍ کچه سزا ورته ټاکل شوې ده، په جنايي کوډ کې منځنۍ کچه سزا له يوه کال څخه تر پنځو کلونو بند او يا له ۱۲۰۰۰ تر ۶۰۰۰۰ افغانيو (چې له ۱۷۷ تر ۸۸۴ امريکايي ډالرو سره برابر دی) جريمه کوي.

د اساسي قانون له مخې، دولت بايد يو ډول ښوونيز سيستم عملي کړي، دا سيستم بايد د اسلام له اساساتو سره سم تيار او عملي شي؛ د دې تر څنګ په هېواد کې ديني زده‌کړو ته چې په اسلامي چوکاټ کې وي، برابري کړي. په ملي کاريکيولم کې د سني او شعيه ډېره‌کيو لپاره جلا جلا درسي مواد تيار شوي دي، د دې تر څنګ داسې کتابونه هم شته چې له تاوتريخوالي لېرې غير اسلامي اصولو باندې بحث کوي؛ په کاريکولم کې د اسلام په اړه درسي مواد شته، خو د نورو دينونو په اړه هيڅ نشته؛ غير مسلمانان مجبور نه‌دي چې په عمومي ښوونځيو کې اسلامي زده‌کړو مواد ولولي.

د قانون له مخې، هر ځومره مرستې چې په شخصي او نړۍواله توګه له مدرسو سره کېږي، بايد پوهنې وزارت له‌خوا وڅارل شي.

ټولنيز او جزايي کوډونو سرچينه له اساسي قانون څخه اخيستل شوې. د محکمو لپاره هم شرط دی چې د پرېکړو پر مهال بايد اساسي قانون او له قضيې سره اړوند قانونه په نظر کې ونيسي، خو که چېرې د کومې قضيې په اړه نه په اساسي قانون او نه هم په نورو قانونو کې څه ويل شوي وي، اساسي قانون وايي چې بيا د پرېکړې لپاره سني حنفي فقه په نظر کې ونيول شي، تر هغه ځايه چې اساسي قانون يې د عملي کولو او عدالت پلي کولو امر کړی وي. اساسي قانون دا هم وايي؛ کومې قضيې چې په شيعه مذهبه خلکو پورې تړلې وي، بايد شيعه مذهب قوانين په نظر کې ونيول شي. غير مسلمين شايد په هغو قضيو کې چې د شريعت او فقهي له مخې يې پرېکړه کېږي، شاهدي ور نه‌کړای شي. اساسي قانون د غير مسلمانانو لپاره د هيڅ کوم قانون يادونه نه‌ده کړې.

مسلمان سړی شايد له غير مسلمانې ښځې سره واده وکړای شي، خو دا غير مسلمانه مېرمن، که چېرې مسلمانه نه‌وي، بايد له ابراهيمي دينونو څخه په يوه دين وي، يا عيسويت او يا هم يهوديت. د مسلمانې مېرمنې لپاره له غير مسلمان سره واده کول ناروا دي.

د افغانستان په ملي پېژندپاڼو کې د هر يوه وګړي دين ذکر کېږي. دوی نه‌دي مجبور چې بايد حتماً اسلام ومني، تر څو پېژندپاڼه تر لاسه کړي.

اساسي قانون وايي چې ولسمشر او مرستيالان يې بايد مسلمانان وي. نور لوړپوړي چارواکي (لکه وزيران، د پارلمان غړي، قاضيان) بايد د خپل کار د وفادارۍ د قسم اخيستلو پر مهال د اسلام له اصولو څخه متابعت وکړي.

اساسي قانون د سياسي ګوندونو جوړولو پوره اجازه ورکړې، دې ته اړتيا نشته چې بايد کاري چوکاټ او اصول يې د اسلام مقدس دين له اصولو سره برابر وي. اساسي قانون وايي چې سياسي پارټۍ او ګوندونه بايد په فرقه‌پالنې نه‌وي ولاړ.

په سپټمبر مياشت کې پارلمان نوی ټاکنيز قانون پاس کړ، چېرې چې په ولسي جرګه کې يو غړی له سيکانو يا هندوانو څخه ټاکل اړين بلل شوی وو.

د عدليې وزارت د ډيټابيس له مخې، افغانستان د مدني او سياسي حقونو تړون (ICCPR) لاسليک کړی، خو د پارلمان له‌خوا تر اوسه نه‌دی تصويب شوی.

**د دولت کړنې**

ستري محکمې د هغو څلورو تنو د اعدام سزا لغوه کړه چې په ۲۰۱۵ کال کې د هغې مېرمنې په وژلو کې يې لاس درلود چې ويل کېدل قران يې سوځولی دی. محکمې د هغو اوو تنو پوليسو چې د پېښې په ځای کې يې شتون درلود، د يو کلن بند سزا د بياکتنې امر هم ورکړ چې استيناف محکمې بيا د دوی په جزاوو کې ډېروالی راوستی. په تېرو دوو کلونو کې د ارتداد او يا کفر په برخه کې کوم راپور نه‌دی ورکړل شوی، خو هغه واحد وګړي چې له اسلام څخه اوښتي وو، وايي چې موږ د دولت له سزا ورکولو او د کورنۍ او ټولنې له لوري ضرورنو انديښمن کړي يو. د هندو او سيک ټولنو غړي وايي چې موږ اوس هم له دې امله چې کوم ضرر را ته و نه‌رسېږي، خپلې شخړې او ستونزې په محکمو کې نه‌حلوو. دوی دې ته ترجيح ورکوي چې خپلې ستونزې د خپلې ټولنې د شوراګانو له لارې حل کړي. د لیږه‌کيو مذهبي ډلو مشران وايي چې محکمې دوی ته د مسلمانانو په څېر حقونه نه‌ورکوي. د هندو او سيکانو ډېره لېږه شمېره په دولتي ادارو کې کار کوي. په داسې حال کې چې شعيه مذهبه وګړي په دولت کې په لوړو پوستونو کې کار کوي، خو د شعيه‌ګانو چارواکي وايي چې دوی ته ورکړل شوي پوستونه له ډيموګرافيکي اړخه د دوی لپاره بسنه نه کوي.

د ۲۰۱۵ کال په مارچ مياشت کې ستري محکمې د استيناف محکمې د هغو څلورو تنو د اعدام سزا، چې د يوې مېرمنې په وژلو کې چې ويل کېدل قران شريف يې سوځولی، قضيه کې ښکېل بلل شوي وو، شلو کلونو بند ته راټيټه کړې وه، تاييد کړه. ستري محکمې په قضيه کې د ښکېلو نورو اتو تنو لپاره چې شپاړس، شپاړس کاله سزا ورته ټاکل شوې وه هم تاييد کړه، خو د هغو اوو تنو پوليسو چې د بند يو کلنه سزا يې ځنډول شوې وه، رد کړه. محکمې هم ومنله چې د تعليق احکام ډېر غوره وو. محکمې لويي څاروالی ته هم امر وکړ چې د هغو نورو ۱۱ افسرانو په اړه چې په قضيه کې ښکېل بلل شوي، په اړه څېړنې وکړي. ستري محکمې د خپلو حکمونو په اړه هيڅ تشريحات ور نه‌کړل او نه يې هم استيناف

محکمې ته کومه لارښوونه وکړه. د اګست میاشتې په اوومه نېټه، د استیناف محکمې د هغو اوو تنو پولیسو د یوه کال څنډ دوه کاله ته اوږد کړ، او دا یې هم وویل چې د پولیسو مامورین تر هغه وخته په زندان/محبس کې دنده نهشي اجرا کولای، تر څو چې پاکه سابقه ونلري او په راتلونکي کې هم جرم نهکولو ته ژمنتیا وښیي. د استیناف محکمې هم هغه ملکي محکوم کړی چې په ابتدايي پریکړه کې د ۱۶ کلونو بند محکوم نه وو.

هغوی چې له اسلام څخه یې مخ اړولی وو، وایي چې موږ مجبور شوي یو چې خپل ګډو ژوند (واده) ته د پای ټکی کېږدو، د کورنیو او ټولنې له لوري رد شوي یو، کارونه مو له لاسه ورکړي او ان د مرګ تر حده جریمه شوي دي.

په تېرو دوو کلونو کې، د ارتداد او کفر هیڅ قضیه نهده تعقیب شوې، د بهايي مذهب لرونکو په ګډون، هغوی چې له مخکې کافران بلل شوي، له اسلام څخه د مخ ګرځونکو په ډله کې نهشمېرل کېږي، نو ځکه هیڅډول سزا هم نهورکول کېږي. په ۲۰۱۳ کال کې یو کس چې له اسلام څخه اوښتی وو او مرتد شوی وو، په ۲۰ کلن بند محکوم او لا تر اوسه په بند کې پاتې دی.

د حج او اوقافو وزارت (MOHRA) د حج او عمرې د زیارت مسوولیتونه ور له غاړې دي، لهدې ور ها خوا د مذهبي چارو، د مذهبي زدهکړو، د فتواوو ورکولو، له ملایانو او امامانو څخه ازموینه اخیستلو، د دولت تر لاس لاندې مسجدونو لپاره د وعظونو او خطبو تیارولو او د مذهبي موضوعاتو په اړه عامه پوهاوی لوړولو مسوولیتونه هم ور له غاړې دي. دولت شعیه او سني، دواړو ته اجازه ورکړې چې د حج او عمرې په مراسمو کې برخه واخلي، بې لهدې چې دوی ته کومه سهمیه په نظر کې نیول شوې وي. حج او اوقافو وزارت د هندو او سیکانو لپاره هم مذهبي عبادتونو لپاره هندوستان ته لارې چارې برابرې کړې دي، دوی غیر مسلمانانو لپاره هم اسانتیاوې برابروي، خو له هغوی څخه د ګټې پهپاره هیڅ نه تر لاسه کوي.

د ۲۰۱۵ کال تر پایه د شمېرو له مخې حج او اوقافو وزارت سره د ۳۰۰۰۰۰ له ډلې ۴۸۰۰ څخه تر ۵۰۰۰ ملا امامان راجستر دي. دا ملا امامان چې د دولت تر چطر لاندې ملایي کوي، له دولت څخه تر ۴۷۰۰ افغانۍ چې (۶۹ امریکایي ډالره) تر لاسه کوي. هغه ملا امامان چې غواړي له حج او اوقافو وزارت سره راجستر شویو مسجدونو کې ملایي وکړي، له دوی څخه کم تر کمه د لیسانس درجه چې د لوړو زدهکړو وزارت له لوري یې سند منل شوی وي، غوښتنه کېږي. د دې وزارت په وینا له دوی سره د ۱۵۰۰۰۰ څخه تر ۱۶۰۰۰۰ مسجدونو له ډلې ۵۰۰۰۰ راجستر دي، پهدې شمېرو کې ۷۰۰ هغه مسجدونه هم شامل دي چې د دې کال په اوږدو کې له دوی سره راجستر شوي دي. د حج او اوقافو وزارت وایي، چې د مالي سرچینو را کمولو ته یې ادامه ورکړه، تر څو په هېواد کې د ملا امامانو او مسجدونو د راجسترولو لپاره یوه غوره لاره جوړه کړي.

د حج او اوقافو وزارت د خپلې بودجې یوه برخه د نویو مسجدونو جوړولو لپاره ځانګړې کړې ده. د ملکي وګړو له لوري د نویو مسجدونو د جوړولو یوه لویه برخه پیسې ورکول کېږي، دوی تر هغه وخته وزارت نه خبروي، تر څو چې دوی کومو مالي او نورو مرستو ته اړتیا و نه‌لري.

سیکان او هندوان وايي چې دولت په دوی هیڅ داسې بندیز نه‌دی لګولی چې دوی دې د نورو هندوانو او سیکانو روحانیت ته هڅولو څخه راوګرځوي، خو د عقیدې د بدلون د جزا قانون له مخې، دوی باید خپله عقیده بدله نه‌کړي. دولت هیڅکله د دوی مخه نه نیسي، تر څو د ځان لپاره د عبادت ځایونه جوړ کړي.

د سکانو او هندوانو د ټولنې د غړیو او مشرانو په وینا، دوی د دې لپاره چې د خپلو غصب شویو ځمکو د بېرته اخیستلو شخړې او قضیې له وېرې محکمې ته نه وروړي، په تېره کله چې د کوم محلي زورواک له‌خوا د دوی ځمکې غصب شوې وي.

د حج او اوقافو وزارت د راپورونو له مخې په ټول هېواد کې ۵۰۰۰ مدرسې او د قران د زده‌کړې مرکزونه شته دي. دولت له‌دې جملې څخه ځینې د دې کال په اوږدو کې راجستر کړې، خو کره شمېره یې نه‌ده معلومه. د ۲۰۱۵ کال د وروستیو شمېرو له مخې د ۳۴۰۰۰۰ شا او خوا شاګردان دې مدرسو کې لوست کوي، ډېر یې په کابل، بلخ، ننګرهار او هرات ولایتونو کې دي.

د دې مدرسو او ښوونځیو د راجسترولو بهیر لازم دی، تر څو معلوم شي چې ایا دا د لوست ځایونه مناسبه ودانۍ، درسي خوني، مسلکي ښوونکي او په هغه صورت کې چې زده‌کوونکي د همدې مرکز په ساحه کې ژوند کوي، مناسبه لیلیه لري؟ د حج او اوقافو وزارت هغه مدرسې چې په مسجدونو کې دي، راجستروي، خو پوهنې وزارت بیا هغه مدرسې چې له مسجدونو څخه په جلا ساحه کې دي، راجستروي. د حج او اوقافو وزارت له لوري راجستر شویو مدرسو کې زده‌کوونکي چې شمېره یې له ۵۰ تر ۷۰ تنو پورې چې په مختلفو پوړونو یا لېولونو کې زده کړې، کوي، هر یو په واحد ډول له یوه تن ملا امام څخه درسونه اخلي. د دې مدرسو راجسترول په‌دې معنی نه‌دي چې نور یې نو ټول کنټرول د دولت په لاس کې شو، خو دومره ورسره کوي چې د هغوی سند او ډیپلوم په دولتي ادارو کې د منښت وړ وبلل شي او د دوی له لوري تاییدېږي. یوازې هغه کسان چې سندونه یې له راجستر شویو مدرسو څخه اخیستي وي، کولای شي په دولتي پوهنتونونو کې نورو زده‌کړو ته ادامه ورکړي.

د حج او اوقافو وزارت د ناراجستر شویو مدرسو په اړه هیڅ معلومات را نه‌کړل، خو تخمیني راجستر شوې مدرسې «تر ډېره بریده» ناراجستر شوې مدرسې هم په‌دې هڅه کې دي، تر څو راجستر شي. د پوهنې وزارت صلاحیت لري، تر څو غیر راجستر شوې مدرسې وتړي، خو د وزارت د چارواکو په وینا په عمل کې د ولسي حساسیتونو له امله دا کار ناشونی او نږدې ناممکن دی. د وزارت چارواکي دا هم وايي چې د تېر کال په اوږدو کې یې هیڅ یوه مدرسه هم د ټولنیزو منفي غبرګونو د ویرې له امله نه‌ده تړلې، خو دوی وايي چې دولت په‌دې هڅه کې دی، تر څو په مدرسو کې دننه د مدرسو د راجسترولو د ګټو او منافعو په اړه پوهاوی لوړ کړي، د دې په ګډون چې له راجستر شویو مدرسو څخه اخیستل شوی سند به د منښت وړ وي، له دوی سره به د مادي او معنوي مرستې وسیله هم وي. مثلاً د دوی د مدرسې لپاره د څوکیو او مېزونو، قرطاسیه او نورو اړتیاوو په برخه کې مرستې.

د حج او اوقافاو وزارت منځنیو زده‌کړو مدرسې نه‌لري؛ په ځای یې په مسجدونو کې منځنی لیول دیني زده‌کړې ورکول کېږي. په‌داسې حال کې چې د حج او اوقافو وزارت سټنډرډ دوه کلن درسي پروګرامونه لري، له پوهنې وزارت سره ۸۰ داسې مدرسې راجستر شوې دي، چې منظم دوه کلن درسي پروګرام کې دیني زده‌کړې ورکوي. له پوهنې وزارت سره ۱۲۰۰ عمومي او ۲۰۰ شخصي مدرسې راجستر شوې دي.

د حکومتي چارواکو په وینا، د مدرسو قانوني راجسترېدل د شخصي او نړیوالو مرستو چې د پوهنې وزارت له لوري مصرفېږي، دولت ته اجازه ورکوي، تر څو د دې استیټیټونو مالي سرچینې وڅاري، خو دا وزارت ډېر کم دا هر څه عملي کړل، خو بیا هم په‌دې برخه کې برالي نه‌شول. له مدرسو سره په نغدي ډول نیغ په نېغه مرستې کول، دا بهیر نور هم ستونزمن کړ، دوی وایي، د هغو پیسو چې په شخصي ډول او یا له بهره دوی تر لاسه کوي، څارل د دولت لپاره ډېر ستونزمن کار دی. په‌دې برسېره، دولت بیا هم خپلو هڅو ته دوام ورکړی، تر څو له مسلمانو هېوادونو او شخصي سکټور څخه مدرسو ته مرستې راټولې کړي. پوهې وزارت وایي، زموږ هڅې اوس هم دوام لري، تر څو خپلواکې او شخصي مدرسې هم حساب‌ورکوونکې کړو او د هغوی مالي سرچینې معلومې وي.

راجستر شوې مدرسې، په خپلو درسي موادو کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو له لوري ورکړل شوی کاریکولم عملي کوي. په دې کاریکیولم کې ۶۰ سلنه مضامین اسلامي دي، ۴۰ سلنه نور بیا ریاضیات، تاریخ، جغرافیه او دري ادبیات شامل دي.

په کابل کې د دولت په ملاتړ د سیکانو لپاره یو ښوونځی شته دی. دولت د دې ښوونځي لپاره هم په هماغه کچه اسنتیاوې او ملاتړ وړاندې کوي، په کومه کچه چې د نورو ښوونځیو لپاره دي، مثلاً د کارکوونکو معاشونه، کتابونه او د ودانۍ رغونې لګښتونه، په هغه کچه چې نورو ښوونځیو ته یې ورکوي، دوی ته هم ورکول کېږي. پوهنې وزارت له دیني مضامینو ماسیوه د سیکانو ښوونځیو ته هم درسي کاریکولم ورکوي. د دوی په ښوونځیو کې د دیني زده‌کړو لپاره، د دوی له غوښتنو او دیني عقیدې سره سم د ټولنې له لوري ښوونکی ور پېژندل کېږي، خو معاش یې د پوهنې وزارت له لوري ورکول کېږي.

د افغانستان لپاره د سوېډن کمېټه، چې د سوېډن هېواد یوه غیر دولتي موسسه ده، په جلال‌اباد ولایت کې د سیکانو لپاره د یوه ښوونځي ملاتړ کوي. د سیکانو ځینې کوچنیان په نړیوالو خصوصي ښوونځیو کې هم لوست کوي. هندوان شخصاً هیڅ ښوونځي نه‌لري، خو کله کله خپل اولادونه د سیکانو ښوونځیو ته ور لېږي. د عیسویانو لپاره هیڅ ښوونځی نشته.

د څارونکو د راپورونو له مخې، عموماً محکمې په ټولنیزو او جرمي قضیو کې په اصولي او مشروعو قوانینو تکیه کوي. په ځینو برخو کې، که څه هم، د لیږه‌کیو قومي ګروپونو له لوري راپورونه ورکړل شوي چې د دوی په قضیو کې د حنفي فقهي له مخې قضاوتونه شوي، ان تر دې چې په ځینو برخو کې د هېواد له لوري، د بشري حقونو له نړیوالو شویو ژمنو سره هم په ټکر کې دي، د ټولنیزو او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون، او د معلولو خلکو د حقونو په برخه کې د ملګرو ملتونو کنوانسیون.

د عالمان شورا، د سني او شعیه عالمانو ټولګه، ملا امامان او اسلامي قانونپوهان، ولسمشر ته په اسلامي چارو کې مشورې ورکوي. دوی له ولسمشر سره هره دوه میاشتو کې ګوري، له هغه سره په ځینو موضوعاتو خبرې کوي، په تېره د افغانستان له ملي او دفاعي ځواکونو ملاتړ، له مخالفینو سره د سولې او پخلاینې خبرې. د عالمانو دا شورا، د پارلمان له غړو او وزیرانو سره هم جلسې لري، تر څو دوی ته د نویو قانونونو په جوړولو او د زړو قوانینو په عملي کولو کې مشورې ورکړي. په نومبر کې هم د عالمان دې شورا د دولت او د حکمتیار ډلې له اسلامي حزب سره د سولې خبرو ملاتړ وکړ، د حزب اسلامي د دې ډلې مشري ګلبدین حکمتیار کوي.

که څه هم د علماوو دا شورا له دولته خپلواکه ده، خو غړي یې له دولته مالي ملاتړ تر لاسه کوي. دا شورا په ولایتي سطحه هم حکومتي چاراواکو ته مشورې ورکوي، پهدې برسېره که څه هم په کلیو او لېرې پرتو سیمو کې عالمان، د غیر دولتي موسسو استازي او دولتي چارواکي وایي، پایلي تر ډېره د اسلامي اصولو او قوانینو پر بناوو ولاړې دي.

د لیږهکیو مذهبي ګروپونو مشران وایي، عدالت/محکمو دوی ته هغه حقوق او خوندیتوبونه نهدي ورکړي، کوم چې دوی ته قانون ورکړي دي، دوی وایي غیر مسلمانانو ته د مسلمانانو په څېر حقوق نه ورکول کېږي. که څه هم دوی په قانوني توګه د دې حقوقو او خوندیتوبونو حقدار دي. دا مشران وایي چې دولت د عدالت په ګډون، ټول وګړي په یوه ډول، لکه ټول چې مسلمانان وي، چوپړتیاوي وړاندې کوي، پهدې کې د غیر مسلمانانو ډېر کوچني حقونه هم په نظر کې نهدي نیول شوي. په پایله کې، دوی وایي، نو ځکه غیر مسلمانان هم مجبور دي چې د حنفي فقهي له مخې د دوی په اړه پرېکړي ومني.

د هندو او سیکانو د ټولنې غړي وایي چې د دوی د ټولنې خلک خپلې شخړې د نه خوندیتوب او ناحلېدونکي میکانیزم له امله محکمو ته نه وړاندې کوي، په تېره د ځمکو او کورونو ځانګړې محکمې ته. د دې پر ځای، دوی دې ته ترجیح ورکوي، چې دا شخړې په خپلو منځو کې په خپله ټولنه کې حل کړي.

د هندو او سیک ټولنې مشران وایي چې دوی اوس هم له تعصبي چلندونو سره مخ دي، مثلاً په قضایي سیستم او یا محکمو کې د دوی د قضیو ځنډول. تر ټولو ډېره عامه قضایي مسله ده، پهدې کې د سیکانو د ملکیتونو په غیر قانوني ډول خپلول هم راځي. په یوه قضیه کې چې د سیک قوم د یوه مشر له لوري یې راپور ورکړل شوی، د کورنیو چارو وزارت یوه لوړپوړي چارواکي له لوري د سیکانو د ټولنې د یوه غړي ځمکه په زور غصبېدل دي، پهداسي حال کې چې همدا د ځمکې خاوند (سیک) هم د هغه بل څېر د دې هېواد اوسېدونکی وو. په یوه بله پېښه کې، د سیکانو د مشر په وینا، د ملي امنیت ریاست د یوه چارواکي له لوري د یوه سیک د ځمکې غصبول دي، چې هغه جرمني ته کډوال شوی وو، کله چې هغه د خپل حق د اخیستلو لهپاره غږ پورته کړ، د غصبونکي له لوري په ټوپک وګواښل شو. په دواړو قضیو کې د محکمې څېړنې لا دوام لري، د عریضهکوونکي په وینا، د قضیو د څار بهیر ډېر سست روان دی.

په دولتي چوکاټ کې ډېره ټیټه شمېره سیکان او هندوان کار کوي، د یوه تن په ګډون چې ښاروالي ریاست کې کار کوي، یو تن د افغانستان د تجارت او کارخونو اطاق کې، او یو بل تن چې د ولسمشر له لوري

معرفي شوی، په پارلمان کې دی. که څه هم شعیه مذهبه خلک په دولت کې په لوړو څوکیو کې کار کوي، خو دوی وایي چې له دیموګرافي اړخه د سلني په پرتله دا شمېره د دوی نمایندګي نهشي کولای، یعني د دوی لپاره دا بستونه لږ دي. د افغانستان د عالمانو ټولنه بیا وایي چې نسبت سني سلني ته چې په هېواد کې شتون لري، اوس هم د شیعه مذهب ډېر کسان په دولتي ادارو کې په کارونو بوخت دي.

د شعیه مذهب مشران وایي چې قانون دوی ته په ټولنه کې د ژوند هیڅډول ممانعت نهدی کړی، خو د دولت له لوري په شیعه مېشتو سیمو کې امنیت ته خورا پام نهکېږي.

که څه هم د اسماعلیه ټولني څلور تنه د پارلمان غړي دي، خو دوی د هغه څه په اړه چې د دوی په وینا له دولتي ادارو او بستونو د هغوی را ټیټول او را کمول بولي، اندېښمن دي.

قضایي سیستم، اساسي قانون او د بشري حقونو کمېسیون چې له ډول ډول اسلامي ګروپونو (شعیه او سني) څخه جوړ شوی او د حکومت له لوري یې هم ملاتړ کېږي، د مذهبي عقیدو تر منځ په پخلاینې کار کوي. د ښځو چارو وزارت او حج او اوقافو وزارت په ګډه د هغه هدف چې ښځو ته مسجدونو ته د تګ اجازه ورکړل شي، د لاسته راوړلو په هڅه کې دي.

حکومت د افغانستان د اعتدال مرکز ملاتړ هم کوي، تر څو د اسلام په اړه د اعتدال او منځلاریتوب تفسیر پیاوړی کړي. دې مرکز ښوونیز پروګرام په مخه واخیستی، شعیه او سني روحانیون یې کویټ ته د زدهکړو لپاره ولېږل، بیا یې دوی په ولایتونو کې وګمارل، تر څو نورو ملایانو او روحانیونو ته تعلیم ورکړي. نورو ادارو هم په دننئ پخلاینه کې هڅې وکړې، په تېره د علماوو شورا، د اسلامي ورولۍ شورا او د حج او اوقافو وزارت.

د ملي امنیت شورا دفتر هم پهدې برخه کې هڅې وکړې تر څو مذهبي هڅوونکی تاوتریخجن افراطیت معلوم او د مخنیوي په موخه یې ستراتیژي جوړه کړي. دا هڅې په سپټمبر کې پیل شوې، د ملي امنیت شورا دفتر په ولایتونو کې د تاوتریخجن افراطیت مخنیوي ستراتیژۍ جوړولو لپاره یو لړ ولایتي کنفرانسون جوړ کړل، د کنفرانسونو د جوړولو موخه د معلوماتو راټولول وو. په عین حال کې، د ملي امنیت شورا دفتر د وزارتونو تر منځ هم یو کاري ګروپ جوړ کړ، تر څو دوی له اړوندو دولتي ادارو او غیر دولتي موسسو سره د دې ستراتیژۍ په پلي کولو کې مرسته وکړي.

**د بهرنیو ځواکونو او غیر قانوني فعالینو له لوري ناوړه ګټه اخیستنه**

رسنیو وخت په وخت د طالبانو، داعش نومې ډلې او نور وسلهوالو ګروپونو له لوري دیني، قومي او مذهبي ګروپونو، په تېره د هزاره شعیهګانو او نورو مذهبونو په مشرانو، له دې امله چې دوی له دولت او کوم ځانګړي اسلامي ګروپ سره اړیکي لري، د بریدونو راپورونه ورکړي دي.

په جولای میاشت کې په کابل کې د یوې غیر دولتي موسسې (روښنایي خوځښت) له لوري په لاره اچول شوي لاریون باندې بمي چاودنه وشوه، پهدې چاودنه کې ډېری هزاره شعیهګان وو او نږدې ۹۷ تنه ووژل

شول او تر ۲۶۰ ډېر کسان ژوبل شول. له بريده لږ موده وروسته، داعش نومې ډلې د دې بريد پړه پر غاړه واخيسته، د ايماق خبري اژانس په وينا داعش ډلې دا بريد د هزاره ټولنې پر وړاندې (فدايي بريد) وبلی.

په نومبر مياشت کې يوه ځانمرگي بريدکوونکي د شعيه مسلمانانو يوه ډله چې د اربعين ورځ يې لمانځله په نښه کړه، دا چاودنه په باقرالعلوم مدرسه کې وشوه چې نږدې ۳۰ تنه يې ووژل، داعش ډلې د دې پېښې مسووليت هم په غاړه واخيستی.

په اکتوبر مياشت کې يوه ډله وسله‌وال د کابل ښار کارته سخي مسجد ته ور ننوتل او په عبادت‌کوونکو، چې د عاشورا ورځ يې لمانځله بريد وکړ. د يوې موسسې د افراطيت څارونکي ويب‌پاڼې د راپور له مخې، په‌دې بريد کې ۱۷ تنه عبادت‌کوونکي ووژل شول او ۵۸ تنه نور يې ټپيان شول، په‌دې مرگـ‌ژوبله کې ښځې او ماشومان هم شامل ول. د ايماق خبري اژانس د راپور له‌مخې په‌دې بريد که د داعش نومې ډله، په پلان کې نېغ په نېغه ښکېله وه، د دوی يو وسله‌وال کس هم د بريد کوونکو په ډله کې وو. داعش ډلې بيا وروسته د دې بريد پوره مسووليت په غاړه واخيستی. يوه ورځ وروسته په بلخ ولايت کې د شعيه‌گانو په يوه مسجد کې بمې چاودنې ۱۴ تنه ووژل او ۱۷ تنه يې ټپيان کړل. د دويمې ورځې چاودنې مسووليت هيڅ چا په غاړه وا نه‌خيستی. شعيه ټولنې مشرانو دا بريد وغندی او ويې ويل چې شعيه‌گان په‌دې باور دي چې دا بريدونه د بنسټپالو عناصرو له لوري کېږي، تر څو فرقه‌ييزو تاوتريخوالو ته لمن ووهي. د شعيه ټولنې دې مشرانو خپلو خلکو ته وويل چې له هر ډول تاوتريخجن غبرگون څخه لېرې وگرځي، کوم چې شايد په هېواد کې د شعيه او سني تر منځ جنجالونه وزېږوي، دوی له دولت څخه وغوښتل تر څو په‌دې برخه کې کوټلي گامونه واخلي او د پېښې په اړه پوره او دقيقه څېړنه وکړي.

په جون مياشت کې وسله‌والو د افغانستان په شمالي ولايت، سرپل کې ۱۷ تنه هزاره شعيه‌گان وتښتول. د دې ولايت د ولايتي شورا يو تن غړی وايي چې طالبانو دا کسان د دې لپاره تښتولي وو، تر څو يې له خپل قوماندان سره چې له‌دې پېښې يوه ورځ مخکې د دولتي ځواکونو له لوري په جنگ کې نيول شوی وو، بدل کړي. پېښه له هغه وروسته را منځته شوه، کله چې طالبانو د کندوز ولايت په لور روان بس ته مورچه ونيوله، ۱۳ تنه يې ووژل او څو تنه نور يې له ځانه سره بوتلل. د سيمې قومي مشرانو په منځگړيتوب تښتول شوي کسان پرېښودل شول.

په سپتمبر مياشت کې اته تنه هزاره چې له باميانو ولايت څخه يې د کابل پر لور سفر کوی، په وردگو ولايت کې وتښتول شول، پېښه صرف ۱۵۰ متره لېرې د پوليسو له يوه چيکپوسټ سره رامنځته شوه. په بله پېښه کې، په غور ولايت کې د وسله‌والو يوې ډلې دوه موټره ودرول. وسله‌والو د مسافرو له ډلې پنځه تنه چې هزاره پېژندل شوي وو، له هغوی څخه جلا کړل، په هغوی يې د ټوپکونو نښې نيولې وې او له ځانه سره يې بوتلل. د دولتي سرچينو له قوله، دا هزاره‌گان طالبانو تښتولي وو، دوی غوښتل چې له خپل يوه بندي قوماندان سره يې بدل کړي. يو شاگر هغه وخت ووژل شو چې کله دولتي ځواکونو غوښتل دوی ازاد کړي. نور هغه وخت خوشي شول، کله چې قومي مشرانو منځگړيتوب وکړ. په غزني ولايت کې د طالبانو او دولتي ځواکونو تر منځ په جگړه کې هغه وخت ووژل شول. کله چې طالبانو غوښتل شپږ تنه

هزاره شاګردان وتښتوي، دولتي ځواکونه ورسره په جګړه کې ښکېل شول. په اکتوبر میاشت کې طالبانو ۲۵ تنه هزاره‌ګان هغه وخت وتښتول کله چې دوی له کابل څخه د بامیانو په لور سفر کوی، دوی د قومي مشرانو په منځګړیتوب خوشي شول.

په ډسمبر میاشت کې د رسنیو له قوله په کندوز ولایت کې د سکانو د ټولني یو مشر، لالا دلسوز د ناپېژندل شویو وسله‌والو له لوري ووژل شو. د هغه د وژل کېدو په تړاو پولیسو درې تنه شکمن کسان نیولي وو، د رسنیو د اټکل له مخې پېدې وژنه کې هم د طالبانو لاس وو، خو طالبانو له لوري د پېښې د مسوولیت په تړاو هیڅ خبرې نه‌وې.

طالبانو او نورو وسله‌والو ډلو، هغه مذهبي مشران په مرګ وګواښل چې د طالبانو ضد تبلیغات او پیغامونه یې خپرول او یا دا چې د دوی د سیاسي کړنو په ضد یې تبلیغات کول. طالبانو ملایانو ته هم ګواښونه وکړل چې د امنیتي ځواکونو د جنازې لمنځونه دې نه ادا کوي. د جون او سپټمبر میاشتو تر منځ د ننګرهار ولایت په رودات او مومند دره ولسوالیو کې طالبانو ګڼ شمېر روحانیون د دوو ملایانو په ګډون ووژل. په پایله کې، د حج او اوقافو وزارت د مدرسو د ریاست رییس په وینا، ملا امامان وایي چې موږ د ډار له امله د افغان امنیتي ځواکونو او نورو دولتي کارکوونکو د جنازې لمنځونه نه‌شو ادا کولای. طالبان هم تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې د خلکو ټولنیزې کړنې او عادات څاري، دوی له اسلام څخه د خپلو اخیستنو او تعریفونو له مخې خلکو ته جزاوې ورکوي. وسله‌وال له داعش ډلې سره د ورته کارونو په کولو سره ځان له هغوی سره تړلې ښیي. د حج او اوقافو وزارت ولایتي رییس وایي چې داعش ډلې ۱۰ مدرسې تر خپل کنټرول لاندې راوستې او د هغوی دولتي درسي کاریکولم یې لېرې کړی او په ځای یې خپل درسي سیسټم فعال کړی چې نیمه پوځي درسي سیسټم دی.

دولتي چارواکي وایي چې په اګسټ میاشت کې طالبانو تر خپل لاس لاندې سیمو، بغلان او لوګر ولایتونو په ځینو برخو کې فرهنګي، سیاحتي او ورزشي مضمونونه په اسلامي مضمونونو چې د ملایانو له لوري په ګوته شوي وو، بدل کړل. په اکتوبر میاشت کې د کندوز ولایت د ولایتي شورا یوه تن غړي وویل چې د دې ولایت تر نیمایي ډېر ښوونځي د طالبانو تر ولکې لاندې دي. یوه چارواکي هم دا منلې او ویلي یې دي چې نږدې ۸۰ سلنه ښوونځي د طالبانو تر ولکې لاندې دي. هغه وایي، دا پېداسي حال کې ده چې د دې ښوونځیو ښوونکو ته معاشونه دولت ورکوي. د هغه په وینا طالبانو د ښوونځیو درسي کاریکولم بدل کړی او ښوونکي او د ښوونځیو مدیران یې هم د دوی له لوري ټاکل شوي دي. دولت د هغو ښوونکو او مدیرانو معاشونه هم ورکوي چې د دې ګروپونو له لوري ګمارل شوي دي.

**دریيمه برخه: مذهبي ازادۍ ته ټولنیز احترام**

سیکان، هندوان، عیسویان او نور لیږه‌کي غیر مسلمانان وایي چې دوی اوس هم له زورونو سره مخ کېږي او په ځینو برخو کې له دوی سره تاوتریخوالی هم کېږي، پېداسي حال کې چې هندوان او سیکان کولای شي، په ازاد ډول په ټولنه کې خپل مذهبي مراسم تر سره کړي. هندو ټولنې غړي وایي چې دوی

نسبت سیکانو ته له لیرو ستونزو سره مخ دي. دوی دا تاوتریخوالی د دوی په منځ کې د نارینه‌وو متفاوت پوښاک او ژوندلاره ښیي. د ګروپونو تر منځ په ښکاره بدلونونو برسېره، افغانان سیک او هندو په بدلیز ډول کاروي، ځکه د دوی تر منځ دین او قومیت ډېر سره نږدې او تړلی دی. دا ډېره مشکله وه چې ځینې پېښې سره جلا کړي، کومې چې په مذهبي برخه پورې تړلې وې.

د سیکانو د ټولنې د یوه مشر په وینا، په سپتمبر میاشت کې یو تن چې توره یې په لاس کې وه، د سیکانو د عبادت‌خای په دروازه کې ولاړ او نارې یې وهلې چې «دین مو اسلام ته بدل کړئ». د سیکانو دا مشر زیاتوي، لهدې پېښې یوه اوونۍ وروسته په کابل کې د دوی د عبادت‌ځای د دروازې مخې ته د غوا سر پیدا کړ. ځینو نورو سیکانو ورته پېښې بیان کړې، د دوی ځینې وګړي وايي چې دوی ته وخت په وخت د سیمې د اوسېدونکو او ځینو لوړپوړو دولتي چارواکو له لوري ویل شوي چې «تاسو د افغانستان څخه نه یاست»، دوی د هندوستان څخه دی او «دوی په افغانستان پورې هیڅ اړه نه لري.»

عیسویان وايي، عیسویت ته د اوښتو او د عیسویت مذهبي فکرونو بدلونو په صورت کې د ټولنې له دښمنې سره مخ کېږي. د عیسوي ټولنې غړي چې ډېری یې په نورو هېوادونو کې دې دین ته اوښتي، وايي چې دوی یوازې او یا هم په ډېرو وړو ګروپونو کې په شخصي کورونو کې د ټولنې له زورونو لېرې عبادت کوي.

د مختلفو دینونو مېرمنې وايي چې دوی د سینګار او کالیو ډول په برخه کې د مسلمانانو مشرانو له غبرګونونو سره مخ شوې دي. دوی وايي، د دې غبرګونو له امله ځینې مېرمنې مجبوري شوې دي او یا مجبوري دي چې په ټولنه، کلیوالو سیمو او ځینو نورو سیمو کې چادري واغوندي. په ښارونو کې ډېری مېرمنې اوس چادري نه اغوندي، دا مېرمنې وايي چې دوی یو ډول نه یو ډول د ټیکري او یا د سر پټونکي کالي له ځانه سره لري، دا یې یا په خپله خوښه دي او یا د ټولنې د فشارونو له امله دي. لهدې مېرمنو څخه ډېری یې وايي چې دوی په ټولنه کې د خپل امنیت ساتلو لپاره دا کار کوي. د حج او اوقافو وزارت او د علماوو شورا وايي چې د ښځو د سینګار او کالیو د ډول اغوستلو په برخه کې هیڅ ډول رسمي فشار نشته.

د لیږه‌کیو مذهبي ډلو مشران (سیکان، هندوان او نوري مذهبي ډلي) وايي چې د دوی لپاره د نفوس په ډېرېدو برسېره د ګوتو په شمار د عبادت ځایونه پاتې دي. د سیک او هندوانو د شوراګانو له قوله، په هېواد کې ۶۴ ګوردواره (د سیکانو د عبادت ځایونه) او مندوس (د هندوانو عبادت ځایونه) شته دي، په تېرو کلونو کې د کندهار، غزني، پکتیا او نورو ولایتونو اوسېدونکو د دوی ۳۰ ځایونه نیولي دي. لهدې ډلې د هندوانو د دوو عبادت‌ځایونو په ګډون ۱۴ یې اوس فعال دي. هندو ټولنې د حج او اوقافو وزارت ته د خپلو اوسنیو عبادت‌ځایونو لیسټ ورکړی دی، تر څو د بې‌ځاینه غصبولو او نیونو مخه ونیول شي او تر څنګ یې د پخوانۍ له لاسه ورکړې ځمکې او ودانۍ بېرته تر لاسه کړي. د کابل یوازنی د یهودیانو جومات هم غیر فعال پاتې دی او د عیسویان لپاره په ټولنه کې هیڅ چرچ (د عیسویانو عبادت ځای) نشته. د مختلفو عقیدو غیر افغانانو لپاره د عبادت اسانتیاوې په پوځي ایتلافونو او بهرنیو سفارتونو کې چې په کابل کې دي، موجود دي. بهرنیو بودایانو اجازه درلوده تر څو د هندوانو په عبادت‌ځایونو کې عبادت وکړي.

هندوان او سیکان وايي چې هر وخت د سيمي د اوسېدونکو له لوري، کله چې دوی د خپلو مذهبي مراسمو له مخې خپل مړي سوځوي، له مزاحمتونو او زورونو سره مخ کېږي. د هندوانو/سيکانو د ټولنې يوه مشر ويل؛ يو وخت، کله چې دوی غوښتل د خپلو مړيو د سوځولو مراسم تر سره کړي، د هغه ځای د اوسېدونکو له لوري، د دوی دې ځای ته ډبرې وغورځول شوې. که څه هم د دولت له لوري د دوی د مړو د سوځولو لپاره ځانګړی ځای ورکړل شوی دی، خو د سيکانو د مشرانو په وينا د دولت له لوري دوی ته ورکړل شوې سيمه، له ښاره لرېوالي او د امنيت نهشتون د دوی لپاره بېګټې کړې ده. دولت د سيکانو او هندوانو لپاره، کله چې دوی د خپلو مړيو د سوځولو مراسم تر سره کوي، د امنيت په موخه پوليس او امنيتي ځواکونه ورکړي دي.

د سيک او هندو ټولنې غړي وايي چې دوی خپل اولادونه ملکي ښوونځيو ته نهلېږي، ځکه د ښوونځي د نورو شاګردانو له لوري زورول کېږي. هندوان او سيکان وايي: په تېرو وختونو کې دوی خپل اولادونه د هندوانو او سيکانو شخصي ښوونځيو ته لېږل، خو پهدې وروستيو کې د هندوانو او سيکانو د شمېرې د راټيټېدلو له امله او د اقتصادي ستونزو له امله دا ښوونځي تړل شوي دي. د سيک او هندو شورا په وينا، اوس يو ښوونځی په جلالاباد او دوه ښوونځي په کابل کې فعال پاتې دي.

د سيکانو د مشرانو په وينا، د اقتصادي او کاري فرصتون نهشتون د دوی د کډوالی تر ټولو غټ لامل دی. دوی وايي هغه وخت مهاجرتونو زور واخيست او ګراپ يې لا ډېر لوړ شو، کله چې د دې دوو ډلو لپاره اقتصادي ستونزې ډېرې او امنيتي اندېښنې هم لوړې شوې. د هندوانو او سيکانو غټه شمېره وګړي بېسواده پاتې شول، دوی وايي، دې ستونزې د دوی لپاره کاري فرصتونه هم راکم کړي دي.

څېړونکي وايي د شعيه ليرهکيو پر وړاندې د سني ډېرهکيو تعصبي چلندونه را ټيټ شوي دي. دوی په روښنايي خوځښت کې د چاودنې مثال راوړي چې په هغه وخت کې سلګونو سني وګړي روغتونونو ته ولاړل او ژوبل شويو شعيهګانو ته يې وينه ورکړه، خو د څېړونکو په وينا بيا هم په ځينو ټولنو کې تعصبي چلندونه شتون لري.

د څېړونکو په وينا، د مسلمانانو تر منځ اوس هم د پرمختيايي مرستندويه پروژو په اړه شکونه شته دي، ځيني وايي دا مرستندويه پروژې په غلچکي ډول د عيسويت او عقيدې بدلولو لپاره هڅې دي.

څېړونکي وايي محلي اسلامي ديني مشران هڅې کوي، تر څو هغه ټولنيز کارونه را کم کړي چې له اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې وي، لکه په لوبو کې د ښځو ګډون.

**څلورمه برخه: د متحده ايالاتو پاليسي**

د متحده ايالاتو سفارت مامورانو له دولتي ادارو سره کتنو ته ادامه ورکړه، تر څو مذهبي زغم لا لوړ او د تاوتريخجن افراطيت سه مبارزې په برخه کې د دولت وړتياوې لوړې کړي. د سفارت لوړپوړو مامورانو

او نورو کارکوونکو له دولت سره د لیږهکیو مذهبي ګروپونو د خوندي کولو او ساتلو په موخه له دولت سره خبرې وکړې.

د سفارت استازو له دولتي لوړپوړو چارواکو او مذهبي مشرانو سره خبرې وکړې، تر څو د هغو لارو چارو په اړه خبرې ورسره وکړي چې ډاډمن شي د مدرسو له لوري چې کوم درسي کاریکولم درس ورکول کېږي، له مذهبي پلوه افراطي او له تاوتریخوالي ډک افراطیت هڅونه نهکوي. سفارت د ملي امنیت شورا دفتر تر څنګ له ځینو دولتي او غیر دولتي ادارو او بنسټونو سره هم خبرې وکړې، تر څو د ملي امنیت شورا له دفتر سره له تاوتریخجن افراطیت سره د مبارزې ملي ستراتیژي جوړولو کې مرسته وکړي.

د سفارت چارواکو له لوړوپوړو مذهبي چارواکو، عالمان او غیر دولتي موسسو سره هم خبرې وکړې، تر څو د مذهبي زغم لا لوړولو په اړه لارو چارو په برخه کې ورسره خبرې وکړي او تر څنګ یې له دوی څخه دا غوښتنه هم وکړه چې ټولنې ته لا پراخ مذهبي لید ور وښیي.

د روژې په میاشت کې د سفارت کارکوونکو له دولتي چارواکو، مدني ټولنو غړو او مذهبي مشرانو سره روژهماتي وکړل،پهدې روژهماتیو کې یې له هغوی سره د مذهبي بحثونو او زغم پراختیا په اړه خبرې وکړې.

سفارت متحده ایالاتو او نورو دربیمو هېوادونو ته د نامتو دیني عالمانو د سفرونو مصرفونه هم په غاړه واخیستل، تر څو مذهبي بحثونه لا پراخ کړي؛ د سفارت چارواکو د ځینو څېړنیزو مرکزونو لپاره په تاوتریخجن افراطیت د څېړنې اسانتیاوې هم برابرې کړې؛ سفارت د دې تر څنګ د څېړونکو او مذهبي مشرانو تر منځ چې له ځینو مذهبي ادارو څخه، لکه د اعتدال اداره او د حج او اوقافو وزارت، ځینې ګردي مېزونه هم په لاره واچول، تر څو د تاوتریخجن افراطیت په تړاو لومړنۍ سرچینې معلومي او د مخنیوي په موخه یې میکانیزم او لاره جوړه کړي.